دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۴ مه ګڼه. پرله پسې ۲۴۸ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د وری ۲۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الثانی ۱۴ مه د۲۰۱۴ م د اپریل ۱۵ مه

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوه، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

ټاکنیز کمېسیون د ۲۶ ولایتونو ۱۰٪ پایلې اعلان کړې

تراوسه د قسمي نتایجو له مخې ډاکترعبدالله عبدالله، له اوو نورو کاندیدانو خخه زیاتې رایې وړي او په لومړي درجه کې حسابیږي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د یکشنبې په ورځ له غرمې وروسته په کابل کې په یوې خبري ناسته کې د لس فیصدو رایو قسمي نتایج اعلان کړل.

د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون رییس ډاکتر یوسف نورستاني وویل، تر دې دمه د جمهوري ریاست دکاندیدانو څه باندې پنځه لکه رایې شمېرل شوي دي.

ده وویل، تراوسه د قسمي نتایجو له مخې ډاکترعبدالله عبدالله، له اوو نورو کاندیدانو خخه زیاتې رایې وړي او په لومړي درجه کې حسابیږي:

"ډاکتر صاحب عبدالله دوه لکه، دولس زره، دري سوه، دولس رایې ګټلې چې یو خلویښت اعشاریه، نهه فیصده کیږي.

ډاکتر اشرف غني یو لکو نوي زره، پنځه سوه، یوشپېته رایې ګټلې چې اوه دیرش اعشاریه، شپږ فیصده کیږي.

ډاکتر زلمي رسول، نهه خلویښت زره، اته سوه، یوویشت رایې وړي چې، نهه اعشاریه، اته فیصده کیږي." (۴ مخ)

مستغنی:

آغاجان معتصم در امارات متحده عربی لادرک شده است

کابل، رسانه ها:
وزارت خارجه افغانستان تایید کرده که آغا جان معتصم یک مقام پیشین حکومت طالبان در امارات متحده عرب ناپدید شده است.

سرانجام حکومت افغانستان خبر ناپدید شدن آغا جان معتصم رییس پیشین کمیته سیاسی طالبان را تائید کرده می گوید که این شخص از چندی بدین سو لادرک شده است.

شکیب مستغنی سخنگوی وزارت خارجه افغانستان به روز دوشنبه در کابل به خبرنگاران گفت که گفتگو های حکومت افغانستان برای روشن شدن سرنوشت آغا جان معتصم با مقامات بلند پایه امارات متحده عربی جریان دارد:

" در مورد معتصم آغا جان باید بگویم که حکومت افغانستان مفقود شدن وی را ... (ص، ۴)

د رایې ورکونې مرکزونو د پایلو ۴, ۹۴ سلنه پاڼې مرکز ته رسېدلې

کابل، رسنۍ:
د ټاکنو د پایلې راټولونې مرکز ته له ټول هېواده د ټاکنو د پایلو څه دپاسه ۹۴ سلنه پاڼې رارسېدلې او د رایې ورکونې د مرکزونو ټول اړین توکي ولایتي دفترونو ته وړل شوي او تر سخت امنیتي څار لاندې دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویاند نورمحمد نور، په کابل کې په یوه خبري ناسته کې وویل، چې د رایې ورکونې د مرکزونو د پایلو ۴. ۹۴ سلنه پاڼې په کابل کې د دغه کمېسیون د پایلو د راټولونې مرکز ته رارسېدلې او ټاکل شوې، چې د ۷ پړاوونو له تېرولو وروسته، په سیستم کې شاملې شي. ... (۴ مخ)

وزارت دفاع افغانستان اظهارات اخیر رییس سابق (ISI) را رد کرد

کابل، رسانه ها:
وزارت دفاع افغانستان اظهارات جنرال حمید گل رییس پیشین اداره استخبارات پاکستان را رد کرده که گفته است طالبان بنا برسازش که قبلاً با ایالات متحده امریکا انجام داده بودند در روز برگزاری انتخابات از انجام حملات خودداری کردند.

حمید گل در صحبت با یک رسانه پاکستانی گفته است که طالبان مسلح بخاطر عدم انجام حمله در روز برگزاری انتخابات با ایالات متحده امریکا معامله گری کرده اند. وی هدف از این معامله را برجسته نشان دادن توانایی نیروهای امنیتی افغان خوانده است. ... (ص، ۴)

اردوګان:

ټویټر مالیه نده ورکړې او باید قانوني چلند ورسره وشي

ترکیې ، رسنۍ :
د ترکیې لومړي وزیر رجب طیب اردوګان ټویټر ټولنیزې ویبپاڼې په اړه ویلي چې . له مالیې ورکولو یې ځان پټ کړی او باید قانوني چلند ورسره وشي.

د اردوګان لخوا دا څرګندونې په داسې حال کې شوي چې . د اردوګان یو شمېر مخالفانو یې ټویټر ټولنیزې شبکې کې اردوګان ته منسوب یو غږیز پیغام کې د بډو اخیستو خبرې خپرې کړي دي، یې پرې کټونکې وایي چې ، تر اوسه دا نده څرګنده چې ، دا غږ د اردوګان دی او که نه ؛ ... (۳ مخ)

ولسواکي په حوصله راځي

عبدالله کامه وال (درییم مخ)

چالشهایی که به استقبال دولت آینده نشسته است

فدامحمد فایض

((ما در سیزده سال گذشته یک سیاست روشن و ثابت داخلی و خارجی نیافتیم، مخالفین مسلح یک روز دشمن اند و روز دیگر برادر، یک روز برادر اند و روز دیگر دشمن، در مورد همسایه ها و کشورهای منطقه هم سیاست ما روشن نیست. این را نیز نمیدانیم که اتکای بیشتر روابط خارجی ما بالای کشورهای غربی باشد یا کشورهای منطقه.)) (ص،۳)

مستغني:

د داسو د بند پر مساله لا هم بحثونه روان دي

د پاکستان حکومت له خوا د داسو د برښنا د بند په جوړولو اوس هم د حکومت د مربوطو ادارو بحثونه روان دي او نتیجې ته لا نه دي رسیدلي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستاني چارواکو هغه څرګندونې رد کړې چې ګواکې افغانستان د دې بند له جوړولو سره له مخالفته لاس اخیستی دی.

د دې وزارت ویاند د دوشنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري ناستې ته وویل، پردې مساله اوس هم بحثونه روان دي.

د سیمې د چارو پوهان په خیبر پښتونخوا ایالت کې د «داسو» د برښنا د بند جوړول د افغانستان په زیان بولي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان د اوبو او انرژۍ د وزیر وروستۍ څرګندونې رد کړې، چې افغانستان د دې بند له جوړولو سره له مخالفته لاس اخیستی، رد کړې.

د دې وزارت ویاند شکیب مستغني د دوشنبې په ورځ په کابل کې یوې خبري ناستې ته وویل، د پاکستان حکومت له خوا د داسو د برښنا د بند په جوړولو اوس هم د حکومت د مربوطو ادارو بحثونه روان دي او نتیجې ته لا نه دي رسیدلي: ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اگر تیم اصلاحات و همگرایی برنده شود: که امیدواریم شود

بعد از یک انتظار خسته کننده بتاریخ ۲۴ / ۱ / ۱۳۹۳ کمیسیون مستقل انتخابات ده فیصد آرای نامزدهای ریاست جمهوری را اعلان کرد که این آرا مشتمل بر بیست و شش ولایت بود و آرای هشت ولایت هنوز مانده است. درین آرا دکتور عبدالله عبدالله به رهبری تیم اصلاحات و همگرایی اولین مقام را بدست آورده است که یک خبر خوش برای تمام اعضای این تیم است. آرای دکتور عبدالله درین ده در صد، ۹. ۴۱ در صد آرا را از آن خود کرده است که از نزدیکترین رقیب انتخاباتی اش ۳ / ۴ در صد سبقت دارد. گرچه هنوز فرصت باقی مانده است تا نتایج نود در صد آرای نامزدان ریاست جمهوری اعلان شود و این صلاحیت کمیسیون مستقل انتخابات است، بناءً ما منتظر می مانیم تا کمیسیون موصوف تمام آرا را از آدرس خود اعلان کند؛ اما تا جایی که مربوط به امیدواری میشود ما به اعضا و همکاران و علاقه‌مندان تیم اصلاحات و همگرایی اطمینان میدهیم که ان شاء الله دور نیست که این تیم از سوی کمیسیون مستقل انتخابات برنده اعلان شود و دست اندرکاران این تیم نتایج تلاشهای خود را که در طول کمپاین انتخاباتی دو ماهه متحمل شدند، بدست آورند.

اعلان نهایی پیروزی تیم اصلاحات و همگرایی در انتخابات ۱۶ حمل ۱۳۹۳ بدون شک برای دست اندرکاران و علاقه مندان و شایقین این تیم یک نوید دلپذیر خواهد بود: اما معنای این گپ این نیست که تیم اصلاحات و همگرایی این پیروزی را تنها پیروزی خود بداند: بلکه این پیروزی را علاوه بر اعضای این تیم، پیروزی تمام ملت میداند. انتخابات ۱۶ حمل با وجود چالشهایی که متوجه این انتخابات بود از جمله چالشهای امنیتی، با آنکه هم از نیروهای امنیتی و هم از افراد ملکی ما قربانی گرفت، لله الحمد چنان با پیروزی بسر رسید که بشمول کشورهای همسایه و منطقه کشورهای بزرگ جهان و مراجع بین المللی برآن صحه گذاشتند و به ملت افغان تبریک گفتند. البته مواردی از تقلب هم بوقوع پیوسته خواهد بود چنانچه درین رابطه شکایات به کمیسیون سمع شکایات رسیده و طبق وعده به این شکایات رسیدگی خواهد شد.

گرچه اعلان نتایج نهایی آنچنان که گفته آمد مسؤولیت و صلاحیت کمیسیون انتخابات است که ما منتظر اعلان آن مرجع قانونی میمانیم: ولی محاسبه یی را که با خود داریم امیدواریم که ان شاء الله تیم اصلاحات و همگرایی بحیث برندهٔ این انتخابات اعلان شود. با آنکه بعضی از افراد متعصب و کور دل که با نام جهاد و مجاهد دشمنی آشتی ناپذیر دارند درین اخبار و آن رسانهٔ دیگر یا قلم برداشته عقده گشایی میکنند و یا دهن به الفاظ ناسزا می آلایند؛ ولی ما باور داریم این «زر قلب» را که به ملت ارائه میکنند خریداری ندارد.

ما بحیث انسان که ضعف انسانی جزء خلقت ماست و قرآن عظیم الشان برین شاهد است، انکار نمیکنیم که در زندگی مرتکب اشتباهی شده باشیم و گناهی ورزیده باشیم: ولی این بدان معنا نیست که از یکسو اشتباهات خود را تکرار کنیم و یا به افرادی که جز تخریب و تخدید اذهان عامه و تمسک به عصبیتهای جاهلی دیگر وظیفه یی ندارند فرصت بدهیم که هر آنچه قلب آلوده اش میخواهد به آدرس جهاد و مجاهدین چه آشکارا و چه هم بصورت تلویحی نشخوار کنند.

اگر تیم اصلاحات و همگرایی در انتخابات ریاست جمهوری پیروز شود که امیدواریم پیروز شود، ما به همهٔ ملت اطمینان میدهیم که آغوش این تیم خیلی گشاده است و هرگز اراده ندارد بر هیچکس که استعداد و علاقه‌مندی بخدمت به اسلام مقدس، کشور و هموطنان مؤمن را داشته باشد تنگ بگیرد. پیروزی در انتخابات به معنای این نیست که تیم برنده بر همه چیز سینه بیندازد و دیگران را فراموش کند. تیم اصلاحات و همگرایی اگر خداوند (جل جلاله) بخواهد به پیروزی برسد تمام ملت را در آغوش پر مهر و پر عطوفت خود جا خواهد داد؛ زیرا این تیم مصمم بخدمت به همهٔ هموطنان عزیز است؛ بخصوص افراد خبره و متخصص و کار آگاه.

بناءً ما به همهٔ ملت اطمینان میدهیم که تیم اصلاحات و همگرایی تیم ملت مجاهد افغان است و همهٔ اعضای ملت را عضو و بازوی خود میداند.

نصرالله

اقتدار دهغه چا حق دی، چې د ولس اکثریت پرې باور وکړي

د اصلاحاتو او همپالنې ټيم د کمپاين له لومړی ورځې نه خپل دا شعار تکرار کړی چې په ټاکنو کې زموږ يواځنی رقيب تقلب او درغلي ده، موږ په هېواد کې د ولس د آزادو رأيو له لارې رښتې ټاکنې غواړو او ددغو رښتو ټاکنو په نتيجه کې چې هر نوماند بريالی شي پر سر سترګو يې منو.

د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم دا شعار په دې حقيقت ګواهي ورکوي چې دغه ټيم په هېواد کې په واقعي معنی د ملت د ارمانونو د ممثل حکومت غوښتنه کوله او دا يې ستر هدف و چې راتلونکی حکومت د ولس د پاکو او شفافو رأيو په نتيجه کې جوړ شي. دا چې د ورې په شپاړسمه د ولس په همت او شجاعت ټولټاکنې ترسره شوی؛ نو بيا هم د اصلاحاتو او همپالنې ټيم د انتخاباتو له مستقل کميسيون نه په مکرر ډول غوښتنه کړې چې چېرته هم درغلی شوي له پلټنې وروسته دی پاکې رأيې له ناپاکو رأيو څخه بېلې او د ملت د پاکو رأيو درناوی دی وکړی شي. د اصلاحاتو او همپالنې ټيم دغه دريځ اصلاً د افغانستان د مسلمان او زوريدلي اولس د زړه ترجماني کوي او ديته لاره هواروي چې په هېواد کې د ولسواکۍ جرړې مضبوطې او د تل لپاره د درغلۍ دروازه وتړل شي؛ مګر ددې لوی او ښکاره ثبوت باوجود بيا هم د درغلۍ او جعل ټېکه داران چې د اولس په رأيو نه پخوا باور درلود او نه هم اوس لري، ددې پرځای چې د اولس رأيو ته په درنښت وګوري او د رښتو ټاکنو له لارې اقتدار ته ورسېږي د ټولټاکنو په ورځ، نه يوازې دا چې د هېواد په ګڼو ولاياتو او ولسواليو کې له تقلب نه کار واخيست او سلګونه صندوقونه يې له جعلي رأيو څخه ډک کړل چې مستند او کره شواهد د هغوی دا درغلۍ په اثبات رسوي، په ډېره سپين سترګۍ لګيا دي د خپل بام واورې د بل چا په بام اچوي، په داسې حال کې چې د انتخاباتو د شکاياتو کميسيون په ډېر جرئت سره وايي چې موږ خپله دنده په ډېره ايمانداري او ديندارۍ ترسره کوو او هر چېرته چې تقلب او درغلۍ شوي له بشپړ تحقيق او څېړنې وروسته هغه رأيې قرنطين او باطلې اعلانوو.

د يکشنبې په ورځ د لسو فيصدو نسبي رأيو له اعلانولو وروسته چې ډاکټرعبدالله عبدالله ۹. ۴۱ فيصده رأيې ترلاسه کړی، په ظاهره د ديموکراسۍ دعويداراتو؛ مګر د پردې تر شاه د ولسواکۍ د دښمنانو په زړونو کې اور بل شوی او ددې پرځای چې د اولس ارادو ته احترام وکړي لګيا دي د خپل عادت مطابق د فضاً د خړ پړولو او د اولس په سترګو کې د خاورې د شيندلو کوښښ کوي، کله د درغلۍ تور ورباندې لګوي او کله هم بيا وايي چې پکار ده هغه څېرې چې هېواد ته ښه نيت او اراده نه لري له صحنې څنډې ته شي او اقتدار ته ونه رسول شي. له همدې ځايه د هر چا فاسد نيتونه او شوم پلانونه مخې ته راځي او هر څوک په دې خبره پوهېږي چې په دې هېواد کې څوک ولسواکي او څوک ديکتاتوري غواړي؟! د ولسواکۍ اصل بنسټ د اولس رأيو ته رجوع کول او دهغوی په نتيجه کې حکومت جوړول دي، د اصلاحاتو او همپالنې ټيم همدغه اصل ته رجوع کړی او دا واک يې خپل ولس ته ورکړی چې که چېرته هغوی د هېواد او اولس د خدمت جوګه ګڼي؛ نو خپلې رأيې دی ورته ورکړي، دا چې په ټولټاکنو کې اولس پر دغه ټيم اعتماد کړی او د هېواد د مشرتابه لپاره يې اهل ګڼلی؛ نو بيا دهغوی اعتماد او باور نه منل له اولسواکۍ نه بغاوت او ديکتاتورۍ د قيام له معنا پرته بل هيڅ مفهوم نه لري، دغو عناصرو ته پکار دی چې د ديموکراسۍ د کاذب شعار ورکولو پرځای د خپل زړه خبره له خولې راوباسي او ښکاره دی ووايي چې په افغانستان کې له کودتايي او ديکتاتوري نظام پرته بل څه نه غواړي، هېوادوالو ته د هر چا خدمت او شخصيت معلوم دی، هغه خلک هم پېژني چې د خپل اقتدار لپاره يې خونړۍ کودتاګانې وکړې، د لکونو په تعداد افغانان يې شهيدان او په ميليونو شمېر يې هجرت کولو ته مجبور کړل، ټول افغانستان يې کنډواله او په ميليونو افغانان يې معلول او يتيمان کړل، موږ نه پوهېږو چې دغه عناصر اوس څنګه د ولسواکۍ او ديموکراسۍ خبرې کوي؟ هغوی چې د خپل اقتدار په کلونو کې ولس ته له مرګ، ژوبلې، ورانۍ، ويجاړۍ او ديکتاتورۍ پرته نور څه نه دي ورکړي اوس يو دم د ولسواکۍ نوم ورته څنګه په ياد شوی دی؟

پخوا چې هر څه شوي هغه هسې هم شوي دي له قبرونو مړي ويستل هيڅ ګټه نه لري ددې قضاوت موږ د افغانستان ولس ته پرېښی چې څوک څومره سپين دی او څومره تور؟

اوس مو د عمومي ټاکنو له لارې د اولس په خوښه اقتدار ته رسيدل د يو اصل په توګه منلی او دا قضاوت مو هغوی ته سپارلی چې څوک د هېواد د زعامت اهل ګڼي او باور ورباندې کوي، ټاکنې ترسره شوې د انتخاباتو مستقل کميسيون او د شکاياتو د اوريدو کميسيون شته، د درغلۍ په اړه جدي پلټنې روانې دي، ددې ټولو باوجود بيا هم داسې خبرې کول چې د اصلاحاتو او همپالنې ټيم ته اقتدار سپارل له هېواد سره خيانت دی، د ديموکراسۍ او ولسواکۍ د بنسټونو د ورانولو ناوړه هڅه او د افغانستان د مسلمان ولس په اسلامي او قانوني حق باندې مجرمانه تعرض دی.

د افغانستان ټولو سوله دوستو، اسلام پالو او استقلال خوښوونکو غيرتي ولس ته پکار دی چې د خپلو رأيو د خونديتوب او د خپل روا حق د ساتلو په خاطر هيچا ته اجازه ورنکړي چې د تخريبي خيرو او ليکنو له لارې، د ټولټاکنې دغه پروسه چې په ډېرو سختو حالاتو او شرايطو کې ترسره شوې زيانمنه او د دښمنانو له خوا ګوښارل شوي کړی د افغانستان امن او استحکام ته نقصان ورسوي، موږ بايد ټول د خپل دغه قانوني حق د حفاظت لپاره يو موټی شوو او دهغو کړيو ارمانونه خنثی کړو چې په افغانستان کې د اولس د ارادو برعکس د سازشونو له لارې د پرديو د غلامۍ لپاره خپل ځانونه اقتدار ته رسوي، د ټولټاکنې خپلواک کميسيون دې هم په بشپړ جديت متوجه واوسي چې د افغانستان د اولس دغه لويه لاسته راوړنه د ملي امانت په توګه وساتي او د ولسواکۍ ددغه بنسټ په غښتلي کولو سره د افغانستان راتلونکی پر مضبوطو بنيادونو ودروي.

د ولس رأيي مهمې دي

عبيدالله صافي

نظام پخپله لاس او پښې نه لري، نه پخپله مسلط کيدلای شي او نه هم پخپله تطبيقيدای شي: بلکې د نظام منونکی يې تطبيقوي او ښه نتيجه ترينه اخلي. ترهغې چې د نظام احترام ونشي او د تطبيق لپاره يې عملي ګامونه پورته نه کړای شي پخپله نظام او قانون ټولنې ته هيڅ ګټه نشي رسولای.

د نظام يا قانون مثال کټ مټ دهغه درمل په څېر دی چې يو ناروغ ته ورکول کېږي، که ناروغ له دغه درمل نه ګټه وانخلي هيڅ نتيجه لاسته نشي راوړلی او ناروغي يې نه يوازې دا چې نه ښه کېږي؛ بلکې نور هم خطرناکه کېږي.

د هېواد د زعيم د ټاکلو لپاره اسلامي او بين المللي قانون دا دی چې اولس د رأيو صندوقونو ته ځي او د چا له فشار او جبر پرته پخپله خوښه د خپلې خوښې نوماند ته رأيه اچوي.

زموږ د افغانستان اولس هم د ټاکنو دغه اصل او قانون منلی او د هېواد د مشرتابه د ترلاسه کولو لپاره د اولس آراو ته رجوع کوي، د اولس دغه رأيه هله نتيجه ورکوي چې ټاکنو ته ولاړ نوماندان له وړاندې نه په سلو کې سل د اولس رأيو ته احترام ولري او ولس چې هره پريکړه وکړي په ډېره خوښۍ يې مني.

د ورې په شپاړسمه درېيم ځل ټاکنې هم ترسره شوی؛ خو له بده مرغه د اولس رأيو ته د احترام جذبه دا ځل هم په ډېرو نوماندانو کې ونه ليدل شوه، ددې پرځای چې په مطلق ډول اولس خپلې خوښې ته پرېښودل شوی وای او دهغوی د بې لارې کولو لپاره هيڅ ډول له مکر، فريب، زر، زور او نورو ناروا لارو څخه کار نه وای اخيستل شوی، ومو ليدل چې له لومړی ورځې نه اکثرو نوماندانو له ډول ډول ناروا وسيلو او جعلکاريو څخه کار واخيست، لوړ پوړو چارواکو هم خپله ونډه واخيستله او قومي مشرانو هم. چاته د لوړو څوکيو وعدې ورکړی شوی او چاته هم نقدې پيسې او ډالې. ددې ټولو ستونزو باوجود چې ټاکنې ترسره شوې او ولس خپل ملي او ايماني مسؤوليت ترسره کړ: نو ځينې نوماندان له لومړۍ ورځې نه د اولس د اذهانو د اغفالولو هڅه کوي او په دې کوښښ کې لګيا دي چې د ټاکنو اصل او د اولس حقوق په اوبو کې لاهو کړي؛ خو په اوسنيو ټاکنو کې د افغانستان د مسلمان اولس پراخ ګډون او جذبه په دې خبره دلالت کوي چې د ټاکنو دغه قانون او اصل ته تاوان رسوونکي اشخاص کله هم پخپلو شومو اهدافو کې نشي بريالی کيدلای. اولس په دې واقعيت ښه پوه شوي چې د يو روا حکومت د راتلو او د هېوادوالو د ارمانونو د پوره کولو يواځنی قانوني او آسانه لاره همدا ده چې د اولس اراو ته رجوع وشي، هېوادوال په دې واقعيت هم پوهېږي چې په افغانستان کې د اقتدار پر سر د جنجالونو لړی چې د تاريخ په اوږدو کې يې هېواد له ګڼو تباه کوونکو حالاتو سره يې لاس او ګريوان کړی، د ټاکنو همدا اصل يې بنسټيز حل دی چې راتلونکي قيادتونه ټول د ملت د آراو له لارې اقتدار ته ورسېږي. فلهذا جمهوري رياست ته ولاړ ټولو نوماندانو ته پکار دي چې له هر چا وړاندې همدوی د ټاکنو اصل ته وفادار پاتې شي، له هر ډول ټګۍ او برګۍ څخه لاس په سر شي، د خپلې ناکامۍ لپاره دی انې بانې نه ګوري؛ ځکه چې په ټاکنو کې اصل مقصد د اولس برياليتوب دی نه د کوم نوماند؛ چې له نيکه مرغه د افغانستان ولس د ورې د شپاړسمې په ټولټاکنو کې د پراخ ګډون په برکت خپل دغه لوی بري ته ورسيدل او د ولس دغه لوی بری د ټولو نوماندانو او د افغانستان بری دی، که څوک واقعاً د افغانستان د مسلمان ولس بری غواړي؛ نو هغوی ته پکار دي چې لويه حوصله او لويه ګرده پيدا کړي او په پراخه تنده د اولس پريکړه ومني او همدا خپل بری وګڼي.

✍ فدامحمد فایض

چالشهایی که به استقبال دولت آینده نشسته است

انتخابات ۱۶ حمل باوجود بعضی شکایات با آنکه قربانی هم گرفت به خوبی به پایان رسید که تأیید جهانی را با خود داشت. امیدواریم انتظار ملت به درازا نکشد و کمیسیون مستقل انتخابات بتواند، نتایج انتخابات بخصوص ریاست جمهوری را به زودی اعلان کند که به گو مگوها، تشویشها و امثال آن خاتمه دهد. اگر هر تیم برنده میشود حق دارد طبق صوابدید کابینه بسازد و آغاز به کار نماید که ملت سخت منتظر خدمت است. آنچه به عنوان اقدامات مثبت در سیزده سال گذشته صورت گرفت قابل اغماض نیست؛ ولی این اقدامات و خدمات عرضه شده بتناسب نیازمندیهای ملت ما خیلی اندک است، حکومت کار کرد، قریب به دو هزار مؤسسهٔ غیر دولتی چه افغانی و چه هم خارجی کار کرد؛ ولی خیلی از نیازمندیهای مردم ما جواب مثبت و مقنع خود را نیافته است. علت اساسی آن بود که چه در دولت و چه هم در مؤسسات فساد گسترده سایه انداخته بود. بخصوص مؤسسات خارجی بیشتر در فساد غرق بودند، حتی مراجعی که به مؤسسات افغانی پروژه میدادند سهمیهٔ خود را در نظر میگرفتند، دیگر نبود امنیت و تهدیدهای ناشی ازین ناحیه که یک چالش عمده بحساب میرفت، علاوه بر آن در سایر بخشها جواب لازم نیازمندیهای خود را نگرفتیم، ما به امید آن روز هستیم که حتی مریضان ابتدایی ما غرض تداوی به رفتن به کشورهای همسایه و منطقه بی نیاز شوند، ما امیدوار روزی هستیم با آنکه بسطح منطقه بزرگترین و بیشترین منابع آبی را دارا هستیم دارای برق خود شویم و نیازی به برق کشورهای همسایه نداشته باشیم، ما در بخش معارف از نظر کمی گامهای قابل ملاحظه یی را برداشتیم؛ اما در بخش کیفی هنوز هم باید گامهایی را برداریم و در بخش کمی هم چنان نیست که نیازی به برداشتن گامهای مضاعف نداشته باشیم، سرکهای ما ساخته میشود؛ ولی هنوز سالی برآن نمیگذرد که تخریب میشوند که ما در همین شهر کابل شاهد آن هستیم، بخش زراعت و مالداری ما هنوز هم منتظر برداشتن گامهای مؤثر درین راستاست، در قسمت اعاده صلح قدمهایی برداشته شد؛ ولی تا هنوز نتایج دلخواهی از آن نگرفتیم و این جریان قابل بازرسی میباشد، مریضان ما که در داخل تداوی میشوند بشمول دکتوران معالج از ادویهٔ بی کیفیت کشورهای همسایه و منطقه شکایت دارند، پول مردم ما مصرف میشود؛ ولی مریضان شان علی الاکثر تداوی نمیشوند و بعد از مصارف گزاف باز هم مجبور میشوند که به خارج بروند حتی ما متأسفانه به سطح شهر کابل یک لابراتوار قابل اطمینان نداریم، در یک لابراتوار نتیجه یک چیز و در لابراتوار دیگر چیزی دیگر است که این حقیقت را بنده خود بارها در مورد خود شاهد بوده ام، ما در بخش های امنیتی قوت کافی افرادی داریم؛ ولی هنوز به سلاحهای لازم مسلح نشده اند که کم از کم چشم تجاوزگران از آنها بسوزد. ما ذخایر وافر معدنی داریم که میتواند اقتصاد شاریدهٔ ما را سروسامان بخشد: ولی استفاده ازین ذخایر هم برنامه میخواهد، وسایل و امکانات میخواهد و افراد فنی میخواهد. کنترول مواد مخدر نیز یکی از چالشهای عمدهٔ دیگر است.

علاوه بر آن ما در سیزده سال گذشته یک سیاست روشن و ثابت داخلی و خارجی نیافتیم، مخالفین مسلح یک روز دشمن اند و روز دیگر برادر، یک روز برادر اند و روز دیگر دشمن، در مورد همسایه ها و کشورهای منطقه هم سیاست ما روشن نیست. این را نیز نمیدانیم که اتکای بیشتر روابط خارجی ما بالای کشورهای غربی باشد یا کشورهای منطقه.

بناءً دولت آیندهٔ افغانستان آنچنان که قبلاً اشاره یی کردیم باید تمام چالشهایی را که فرا راه خود دارد، لیست نماید و بعداً آنرا اولیت بندي کند. باید ببیند که مبارزه با کدام چالش در اولویت قرار دارد.

کابینهٔ افغانستان باید از روی مصلحتها ساخته نشود؛ مثلاً اگر یک وزارت به یک حزب یا یک جناح تخصیص داده میشود، باید چنان نشود که آن جناح بدون آنکه تخصص و شایستگی و تقوای شخص را درنظر بگیرد آنرا به آن وزارت معرفی کند که چون این وزارت در سهم من رسیده است، بناءً دلم بایسکلم که هر کس را به آن معرفی میکنم، مصلحتهایی که در سیزده سال گذشته صلاحیت و ارادهٔ دولت را سلب کرده بود از بین برده شود و همه چیز به مصداق «جنگ شد کار، سر شد یار» فیصله گردد.

دولت آیندهٔ افغانستان باید کابینه کارایی را تشکیل دهد که در صد روز اول کاری اش کم از کم به ملت نشان دهد که به سمت درستی در حرکت است و امیدواری به آینده زیاد است.

وحدت ملی ما سخت ضربه خورده است، هنوز هم خیلی از افراد بسر رسیدن تمام آرمانهای خود را در اعمال تعصبهای قومی، می بینند. اگر چه اصلاح این وضع بصورت طبیعی تا حدی رو به بهبود نهاده است؛ ولی نه بحدی که میتوان پذیرفت که همه چیز به وفق مراد و خیر و مصلحت پیش میرود.

ما در بخش فرهنگی بیشترین زیانها را دیده ایم. البته آزادی بیان قابل قدر است، موجودیت صدها رسانه نشانه یی از پیشرفت است؛ ولی اولاً باید آزادی بیان را با انارشیزم و افسار گسیختگی فرق کنیم، نمیشود که بمصداق حرف شاعر:

هر چه میخواهد دل تنگت بگو، هر آنچه دل شان میخواهد بگویند و نشر کنند.

دنیای فیسبوک در کشور به مسخره گراییده است. موجودیت و کثرت رسانه ها گرچه فال نیک است؛ ولی ببینیم آنچه را نشر میکنند تا چه حد با ارزشها و موازین دینی و ملی ما تطابق دارد.

همه دنیا اذعان داشت که اشتراک گسترده مردم افغانستان در انتخابات بالاتر از انتظار بود این حقیقتی است که ما هم بر آن اعتراف داریم و مردم دنیا هم اعتراف کردند؛ ولی دولت آیندهٔ افغانستان باید بداند که این اشتراک گستردهٔ مردم در انتخابات یک پیام روشنی دارد.

این پیام روشن چیست؟

مردم از اجراآت ناسالم، فساد اداری، زورگوییها و قلدریها و امثال آن دیگر به تنگ آمده اند.

مردم از جنگهای کور مخالفین مسلح به تنگ آمده اند.

مردم از آنچه نیروهای خارجی مستقر در کشور انجام میدهند به تنگ آمده اند.

مردم از مداخلات همسایه ها بستوه آمده اند.

بناء مردم منتظر اند تا جواب خواستها و آرزوهای خود را از دولت آیندهٔ افغانستان بگیرند. درست است که شنیدن خبر پیروزی خیلی لذت آور است؛ ولی تیم پیروز با امتحان خیلی بزرگ مواجه شدني است، باید شب و روز کار کند، باید دیگر قانون درین کشور بلا دیده حاکمیت پیدا کند، باید در کشور قانون جنگل حاکم نباشد. باید تیم پیروز کمر همت ببندد و به ملت ثابت کند که در خدمت مردم است، ورنه پنج سال بعد باز به پیشگاه ملت خواهد ایستاد و در آن روز ثمر اجراآت خود را خواهد دید.

ولسواکي په حوصله راځي

✍ عبدالله کلمه وال

تېره ورځ د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنو د لس سلنه رايو اعلان وکړ چې پدې لس سلنه رايو کې ښاغلی ډاکټر عبدالله عبدالله ۹، ۴۱، ډاکټر اشرف غنی ۶، ۳۷، ډاکټر زلمی رسول ۸، ۹، استاد سياف ۱، ۵، انجنير قطب الدين هلال ۷، ۲ او ګل آغا شيرزی ۲، ۲ رايې خپلې کړي دي چې په تېرډي راتلونکې کې به پاتې څو سلنه هم بشپړه شي؛ خو داپېدي مانا هم نه ده چې ګوندې د رايو دا سلنه به دکوم کانديد په وړاندې ښکته پورته نه شي؛ بلکې دا به د رايو د وروستي نتيجې پورې لوړه ژوره لري او په پايله کې به هغه کانديد ګټونکی وي چې دټولو رايو پنځوس جمع يو پوره کړي.

هر يو کانديد چې تر پنځوس سلنه زياتې رايې خپلې کړي؛ نو هغه به نوی حکومت جوړوي او دا نور کانديدان به يې د اساسي قانون له مخې دهغه حکومت مني، چې دا د ولسواکی يو ښه اصل دی او همدا علت دی چې انتخاباتو ته د نړۍ لوی او واړه ولسونه ښه وايي او د واک د انتقال تر ټولو اسانه اومسالمت اميزه لاره يې ګڼي.

له نېکه مرغه زموږ هيواد هم د دريبيم خل لپاره د خپل زعيم د ټاکلو لپاره له همدې ديموکراتيکې طريقې کار اخلي، که څه هم زموږ ولس له ديموکراسی سره خومره چې پکار ده هومره اشنايي نه لري؛ خکه چې زموږ هيواد دريې لسيزو جنګ او جګړو نه يواځې دا چې ورته کور اوکلي وران کړه؛ بلکې ټول هغه نهادونه او اصول چې ديوې ټولنې په پرمختګ کې ونډه لري هم له لاسه ورکړل، د زور او زر دوکانداراتو له لاسه مو دخپلې رايې اظهار هم نشو کولای او نه مو د خپل سياسي راتلونکې په هکله فکر کولی شو؛ خو په تېرو دياړلسو کلونو کې يو ځل بيا افغانانو دا حق ترلاسه کړ چې د خپل راتلونکې په هکله فکر وکړي او دخپلې خوښې ولسمشر او زعيم وټاکي، له نېکه مرغه په اوسني انتخاباتو کې زموږ ولس داسې ګډون وکړ چې تاريخي کاميابي يې ګڼلې شو، زموږ ولس دا ثابته کړه چې موږ نور جنګ نه غواړو؛ بلکې دخپلې خوښې حکومت غواړو، خکه خو ولس ښه په جوش او خروش ګډون وکړ له سهاره تر مازديګره په لويو لويو کتاروتو کې ولاړ وو چې خپلې رايې استعمالې کړي او اوس د پايلې انتظار باسي.

په انتخاباتو کې چې هرڅومره کانديدان ولاړ وي؛ خو ګټونکی به يو وي، هغه به حکومت جوړوي او نور به يې ملاتړ کوي او انتظار به کوي چې ګټونکي ولسمشر خپله قانوني دوره پوره کړي، د ناکام کانديد پلويان به ترکمپاينيزې مبارزې وروسته دانتخاباتو د خپلواک کميسيون د پايلو احترام کوي او د نوي حکومت سره به همکاري او ملاتړ کوي؛ خو زموږ په هيواد کې بيا خبره سرچپه ده، دلته انتخابات يوه سياسي سيالي نه ګڼي؛ بلکې د تربګنۍ په سترګه ورته ګوري او د مخالف لوري تيم ورته سياسي سيال نه، بلکې دښمن ښکاري، په خبرو او ليکنو کې چې څومره وس يې کيږي په سپکو او سپورو الفاظو يې يادوي او حتی داسې تهمتونه پرې پورې کوي چې نه يې زموږ مقدس دين اجازه ورکوي او نه يې افغاني کلتور او په تېره بيا زموږ هغه ځوانان چې له تېټ او رسنيو سره سرو کار لري د دوی يو شمير يې په رسنيو کې داسې الفاظ استعمالوي چې په لوستو انسان خفه شي چې داحق دوی ته کوم مدني قانون ورکړی چې خپل مقابل لوري ورته نه افغان ښکاري او نه مسلمان او هرڅوک چې يې په ډله کې نه وي نو بس هغه څه پسې وايي چې په لوستو يې سړی شرمېږي زموږ ځوانان فکر کوي چې د بيان د ازادي پدې دور کې مو چې څه خولې ته راځي بايد ويې وايو اوکه چايې پوښتنه کوله نو لاس يې په ديموکراسی پاکوو، نه داسې نه ده ديموکراسی هم پخپل ذات کې حدود او قوانين لري دومره بې بندو باره هم نه ده.

په ديموکراسی کې هرچا حقوق معلوم دي او هيڅ څوک حق نه لري چې دبل چا په حقوقو تجاوز وکړي زه خو وايم چې له خپلو الفاظو سره احتياط وکړئ تاسو نورو ته يواځې په سپکو سپورو او پوچو الفاظو نه يواځې داچې دخپل کانديد ملاتړ او محبوبيت کموئ؛ بلکې خپل شخصيت مو هم جريحه دار کوئ. ستاسو په ګومان چې هرڅوک ستاسو ملګری دی نو هغه ښاغلي هم دي او پښتون هم او څوک چې ستاسو ملګری نه دی نو هغه نه پښتون دی او نه افغان. زه نه غواړم د يو کوم کانديد د ملاتړو نوم واخلم؛ خو دومره وايم چې زه نه غواړم ستا کانديد په سپکو الفاظو ياد کړم خکه دا زما د شخصيت ښکارندوی کوي زه ټولو کانديدانو ته په درنه سترګه ګورم دخپل هيواد مشران او ښاغلي يې ګڼم او سپکاوی هيڅکله هم نه شم زغملی او زما نه ملګرتيا ورسره پدې مانا نه ده چې زه يې مخالف يم؛ بلکې زه يې ملاتړی نه يم چې زه دا هم خپل مدني حق ګڼم. زه پدې باور يم چې زموږ ولس دخپلو رايو اظهار وکړ او د ولسواکی په لور يې يو ښه قدم پورته کړ او زموږ امنيتي ځواکونو په پوره ميړانه دخپل ولس ترځنګ ودريدل چې ولس دخپلې ارادې تمثيل وکړي. اوس به وګورو چې ولس پرچا اعتماد کړی او څوک يې دخپل زعيم په توګه غوره کړي، موږ او تاسو که ځانونو ته دمدني ټولنو او سياسي ګوندونو فعالين وايو؛ نو راځئ چې دولس د رايو احترام وکړو او دهغه چا تر شا ودريږو چې دولس زياته برخه يې تر شا ده، که داسې ونه کړو؛ نو موږ به له خپل ځوان نسل خپلې خاورې او ولس سره ترټولو لويه جفاء کړی وي.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل
Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغانانو ثابته کړه چې دوی زموږ د ملاتړ مستحق دي

نیویارک ټایمز ورځپاڼه لیکي، د افغانستان د جمهوري ریاست د انتخاباتو قسمي نتیجې ښیي، چې ممکن انتخابات دوهم دور ته لاره پیدا کړي.

د ورځپاڼې په وینا د افغانستان د انتخاباتو کمیسیون پرون د انتخاباتو د نتیجې یوه برخه اعلان کړه، چې له مخې یې د جمهوري ریاست کاندید عبدالله عبدالله تر ټولو ډېرې رایې ګټلې او بل کاندید اشرف غني احمدزي هم دوهم مقام ګټلی دی.

د ورځپاڼې په وینا د ترسره انتخاباتو دغه نتیجه هغه احتمال چې ممکن دوهم دور انتخابات ترسره شي، ډېر قوي کوي.

نیویارک ټایمز لیکي، د انتخاباتو پر نتیجې ښایي پراخې درغلۍ ډېر اغیز وکړي.

د ورځپاڼې په وینا د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون د یکشنبې په ورځ وویل، ډېر جدي شکایتونه یې تر لاسه کړي چې ښایي د څېړلو لپاره یې وخت غزولو ته اړتیا وي.

امریکایي پېښبورک پوست ګزیټه خبرونه، افغانانو ثابته کړه چې دوی زموږ د ملاتړ مستحق دي، ترسرلیک لاندې د افغانستان د جمهوري ریاست او ولایتي شورا ګانانو د ترسره شویو انتخاباتو په اړه په یوه مطلب کې لیکي، کله چې افغانان د رایې مرکزونو ته لاړل چې نوی ولسمشر وټاکي، افغان ټولنیزو رسنیو د ښځینه رایې ورکونکو یو شمېر حیرانونکي عکسونه خپاره کړل.

خبرونه لیکي: په دغو عکسونو کې ښځې لیدل کېږي چې د رایې په مرکزونو کې په کتارونو کې ولاړې دي، چادرې یې اغوستې او د باران د مخنیوي لپاره یې پلاستیکونه پر سر نیولي چې د خبروني په وینا دوی په دې کار سره د ښځو او شخړو په اړه د طالبانو له کړو وړو سره سخت مخالفت څرګند کړ.

لیکوال د یوې زړې ښځې د عکس یادونه کوي چې په ویلچېر کې ناسته ده، رنګ شوې ګوته یې پورته نیولې او وایي، چې دې څکه رایه ورکړه چې که په وینا یې ترڅو پورې چې ښځې رایې ورنه کړي د کارونو د ښه کېدو تمه دې نه کوي.

د خبروني په وینا دغه انتخابات یوازې د ښځو لپاره نه بلکې د هېواد د راتلونکې لپاره هم مهم و. دوی دا هم وښوده، چې ولې باید د امریکا متحده ایالات له کابل سره په اقتصادي او امنیتي برخو کې کلکې اړیکې وساتي.

بلې امریکایي ډیلي بیست خبروني د افغانستان په اړه د هغو ژباړونکو مسله څېړلې، چې له امریکایي ځواکونو سره یې کار کړی او غواړي چې امریکا ورته پناه ورکړي.

خبرونه لیکي: په داسې حال کې چې امریکا له افغانستانه وتلو ته تیاری نیسي، ابراهیم خان د هغو زرګونو ژباړونکو له ډلې یو دی چې اکثره وختونه پرې حملې کېږي خو تر اوسه پورې د امریکا ویزې ته منتظر دي.

ټاکنیز کمېسیون د ۲۶ ...

ښاغلي نورستاني وویل، دا رایې د ۲۶ ولایتونو له مختلفو مرکزونو څخه د انتخاباتو کمیسیون ته رسېدلې دي چې؛ ټولې یې پاکې دي.

د یاد کمیسیون چارواکو وویل، له دوی وروسته عبدالرب رسول سیاف پنځه ویشت زره، شپږ سوه، نهه اویا رایې ګټلي چې پنځه اعشاریه یو کېږي. قطب الدین هلال دیارلس زره پنځه سوه شپږ دېرش چې دوه اعشاریه اوه فیصده کېږي.

ګل اغا شیرزي یوولس زره، یوسلو، دوه دیرش رایې وړي چې؛ دوه اعشاریه دوه فیصده کېږي.

داوود سلطانزوی دوه زره څلورسوه، دوه څلویښت رایې وړي چې؛ صفر اعشاریه پنځه فیصده او امین ارسلاح یوزرو درې سوه، شپېته رایې وړي چې، صفر اعشاریه درې فیصده کېږي.

ښاغلي نورستاني وویل، د رایو دا شمېر ثابت نه دی؛ ځکه د ټولو ولایتونو نتایج نه دي بشپړ شوي.

ده وویل، د رایو شمېرنه روانه ده او هره ورځ به په کې بدلون رامینځته شي؛

"به دې رایو کې بدلون راځي.

په نږدې ورځو کې چې پنځه لس، یا شل فیصده نورې رایې هم وشمېرو، په دغې شمېر کې نوې نوې بدلونونه رامینځته شي."

په پام کې ده چې د دې انتخاباتو قسمي نتایج د شنبې په ورځ اعلان شي؛ خو د انتخاباتو د کمیسیون له خوا یو ورځ وځنډول شول.

د دې کمیسیون چارواکو داهم وویل، د مشکوکو رایو په هکله څېړنې روانې دي.

دوی داهم وویل، دا له امکانه لیرې نه ده چې، د ځینو مرکزونو هغه رایې چې درغلۍ په کې ثابتې شي؛ باطلې اعلان شي.

د انتخاباتو کمیسیون د معلوماتو له مخې د ټولو پاکو رایو لومړي نتایج به د ثور په څلورمه نېټه اعلان کړي.

آغاجان معتصم در امارات ...

در امارات متحده عربی تائید می کند. حکومت افغانستان در این زمینه با مقامات امارات متحده عربی تماس های مکرر گرفته و تلاش صورت می گیرد تا از آن طرف اطلاعاتی را در مورد سرنوشت وی دریافت نمائیم. متاسفانه که تا کنون در این رابطه جزئیات بیشتر را در دست نداریم."

آقای مستغنی افزود که تا کنون گفتگو های مقامات هر دو کشور برای دریافت آغا جان معتصم بی نتیجه بوده است.

اخیراً شورای عالی صلح افغانستان برای برگزاری نشست دور بعدی گفتگو های صلح با برخی از مقامات پیشین گروه طالبان به رهبری آغا جان معتصم آماده گی گرفته بود.

براساس گزارش ها در دو ماه گذشته حدود بیست تن از مقامات پیشین گروه طالبان در امارات متحده عربی با حکومت افغانستان دوبار وارد گفتگو شده اند. آغا جان معتصم تعهد کرده بود که روند گفتگو های صلح را ادامه خواهد داد.

وی رییس کمیته سیاسی طالبان بود که چند سال پیش در نتیجه یک حمله مسلحانه در شهر کراچی پاکستان زخمی شد و سپس جهت تداوی به ترکیه انتقال داده شد.

در همین حال برخی از کارشناسان امور سیاسی افغان می گویند که جنگ استخباراتی در افغانستان و منطقه جریان دارد و ممکن این شخص شکار این جنگ شده باشد.

احمد سعیدی یک تن از این کارشناسان در مورد گفت:

"به شما هم بهتر معلوم است که در افغانستان و منطقه جنگ استخباراتی جریان دارد و جنگ استخباراتی می تواند هر چه را مختل کند، من باور دارم که شاید معتصم آغا جان را شبکه استخباراتی پاکستان اختطاف کرده باشد، اما به هر صورت حلقات استخباراتی در این قضیه دست دارند."

پیش از این نیز برخی از رهبران طالبان که خواهان انجام گفتگو های صلح با حکومت افغانستان اند به گونه مرموز کشته شده اند.

حکومت افغانستان ادعا می کند که بازداشت ملا عبدالغنی برادر یک تن از رهبران طالبان از سوی حکومت پاکستان پس از آن صورت گرفت که وی قصد مذاکره با حکومت افغانستان را داشت.

هر چند ملا عبدالغنی برادر از بند رها شد، اما تا اکنون در راستای پیشبرد پروسه صلح نقشی نداشته است.

آگاهان بدین باور اند که به هدف موانع ایجاد کردن برای آغاز عملی گفتگو های صلح افغانستان تلاش های استخبارات منطقه جریان دارد.

ټوېټر مالیه نده ورکړې او ...

ولې رجب طیب اردوګان دا تورونه په کلکه رد کړي دي. اردوګان څرګنده کړې چې، ټوېټر ټولنیزه شبکه هم باید د نورو نړیوالو شرکتونو په څېر د ترکیې د اساسي قانون له مخې دغه هیواد ته مالیه ورکړي.

څه موده وړاندې د ترکیې حکومت په دغه هیواد کې پر ټوېټر بندیز لګولی وه او لامل یې دا ښودل شوی وچې، ترکیې کې شخړو او لانجو ته لمن وهي.

نړیوالې ټولنې، اروپا، امریکا او یو شمېر نورو هیوادونو د ترکیې دغه پریکړه غندلې وه او دا یې د بیان د ازادۍ لپاره ستر ګواښ ګڼلی دی.

رجب طیب اردوګان په خپل غبرګون کې ویلي چې، ټوېټر د بیان له ازادۍ ناوړه ګټه پورته کوي او د نړیوالو غبرګون یې د ترکیې په کورنۍ سیاست کې مداخله بللې.

د ترکیې یوې محکمې هم د اردوګان د پرېکړې پر خلاف حکم کړی و چې، باید له ټوېټر څخه بندیز پورته شي.

اردوګان ویلي چې، یو شمېر قاضیان هم د حکومت په سیاسي چارو کې مداخله کوي، که دغه قاضیان له خپلو کړنو نه منعه کېږي، نو د قضا منصب دې پرېږدي او د سیاسي اپوزیسیون ګوند دې جوړ کړي.

وزارت دفاع افغانستان ...

اما وزارت دفاع افغانستان با نشر اعلامیه، این اظهارات را به شدت رد کرده و گفته است که طالبان مسلح و حامیان خارجی شان زیاد تلاش کردند تا روند انتخابات را مختل سازند اما موفق نشدند.

در عین حال دولت وزیری معاون سخنگوی وزارت دفاع به روز دوشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت هدف این اظهارات رئیس پیشین اداره استخبارات پاکستان برای مردم این کشور از قبل واضح است:

"هر کسی که چنین اظهارات را بیان میدارد ما آن را رد می کنیم آنان باید بر گفته های شان دوباره غور کنند. حمید گل برای تمام مردم افغانستان معلوم است که همواره برضد مردم افغانستان صحبت می کنند. باید بگوییم که نیروهای امنیتی ما کاملاً تقویت شده اند و میتوانند امنیت افغانستان را تامین کرده و از مردم خود دفاع کنند."

جنرال حمید گل رییس پیشین اداره، استخبارات پاکستان همواره در صحبت با رسانه ها از موقف مخالفان مسلح دولت افغانستان به طور واضح حمایت کرده است. در باره اظهارات این مقام پیشین استخبارات پاکستان مقامات امریکایی تا کنون تبصره نکرده اند.

در ارتباط به این اظهارات، وزارت دفاع افغانستان در اعلامیه، مطبوعاتی اش گفته است که مخالفان مسلح در این انتخابات در مقایسه به انتخابات ۲۰۰۹میلادی حملات زیادی را انجام دادند اما موفق نشدند تا به روند انتخابات صدمه بزنند.

به اساس این اعلامیه مخالفان مسلح در روز برگزاری انتخابات شش صد و نود حمله را انجام دادند. طالبان مسلح نیز ادعا کرده اند که در این روز بیش از هزار حمله را انجام داده اند. این اظهارات پس از آن صورت می گیرند که نیروهای امنیتی افغان پس تامین امنیت روز برگزاری انتخابات از سوی ادارات مختلف از داخل و خارج کشور مورد ستایش قرار گرفتند.

به باور آگاهان مسایل سیاسی این مساله سبب شد تا پس از این مردم بر نیروهای امنیتی افغان اعتماد بیشتر کنند.

د داسو د بند پر مساله لا هم ...

"د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د داسو د بند له جوړولو سره خپل مخالفت پرته نه دی اخیستی او سره له دې چې د مربوط ارګانونو بحثونه یرې روان دي، وروستۍ پرېکړه یې هم نه ده اعلان کړې."

افغان حکومت له دې وړاندې هم د پاکستان په خیبرپښتونخوا ایالت کې د نړیوال بانک په مرسته، د داسو د برېښنا بند له جوړولو سره مخالفت کړی و.

همدارنګه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له نړیوال بانکه غوښتي چې، ترهغې چې افغان حکومت په دې هکله رضایت نه وي ښودلی، د یاد بند له جوړولو سره دې مرسته نه کوي.

د افغانستان د ملي امنیت شورا هم ویلي، چې د داسو د برېښنا د بند جوړول به افغانستان ته زیان ورسوي.

د چارواکو د معلوماتو له مخې د ډیورنډ له کرښې اخوا، د خیبر پښتونخوا په ایالت کې د داسو د بند په جوړولو به شاوخوا اوه میلیارده ډالر ولګېږي او د پاکستان حکومت ویلي، چې تر دوه زره اوه دیرشم میلادي کال پورې به بشپړ شي.

ویل کېږي چې د داسو د برېښنا بند د ۴۳۲۰ میګا واټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

د افغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز هم وایي، چې د داسو د برېښنا د بند جوړول به د افغانستان د اوبو پر زېرمو بد اثر وکړي.

د دې مرکز رییس عبدالغفورلیوال ازادي راډیو ته وویل:

"که نړیوال بانک غواړي چې له دې پروژې سره مرسته کړي، مکلف دی، نړیوالو نورمونو او کنوانسیونونو ته په کتو سره، د افغانستان تصدیق او اجازه ولري.

دا مساله باید د افغانستان د مربوطو ادارو د متخصصینو له خوا په جدي توګه وڅېړل شي او ملي تصمیم ورته ونیول شي."

کارپوهان وایي، پاکستان هڅه کوي چې د افغانستان له روانو نا مناسبه شرایطو څخه ګټه پورته او دغې ګډې اوبه ټولې د خان کړي.

حال دا چې د ګډو اوبو په هکله نړیوال ترمونه وایي، چې د دوو هېوادونو ترمنځ له ګډو اوبو څخه یو هېواد په یوازې خان ګټه نه شي اخیستلی.

د رایې ورکونې مرکزونو ...

نوموړي، یاد اووه پراوونه مشخص نه کړل.

هغه وویل، چې د رایې ورکونې مرکزونو ته لېږدول شوي ټول اړین توکي، پرون یو ځل بیا د ټاکنو کمیسیون ولایتي دفترونو ته سل په سلو کې لېږدول شوي او تر سخت امنیتي څار لاندې دي، ترڅو به بشپړ ډول د کمیسیون مرکزي دفتر ته راولېږدول شي.

نور، د ټاکنو پروسې د پړاوونو په عملي کولو کې یاد کمیسیون مخکې ویاله او ویې ویل، چې د غوبې میاشتې تر څلورمې نېټې پورې به قسمي رایې، د غویي په ۴مه به لومړنۍ او د یادې میاشتې په ۲۴مه به د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان کړي.